هفته واره رساله

# څهٔ چې خوږ آقا صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم
# خوښ هغه
# زمونږ خوښ

(د امیر اهلسنّت بیان)



د مال په فکر کښې د یو سوداګر مرګ

په نسونګ کښې د ناراستۍ کوونکو سزا

په دُنیا او په اخرت کښې کامیاب څوک؟

په سترګو کښې د دوزخ وور


شیخِ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانيِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط

# ځهٔ چې د خوړ آقا ﷺ خوښه هم هغه زمونږ خوښه

**دُعائے عطّار:** یا رَبِّ کریمه! څوک چې دا رساله "ځهٔ چې د خوړ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه هم هغه زمونږ خوښه" ولولي یا واوري هغهٔ ته د صحابهٔ کرامو علیهمُ الرِّضوَان د عشقِ رسول نه برخه ورعطا کړې او هغه د مور پلار سره بے حسابه جَنَّت الفردوس ته داخل کړې-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** څوک چې پهٔ ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولولي الله پاک د هغهٔ د دواړو سترګو ترمینځه ولیکي چې دا د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قیامت پهٔ ورځ د شهیدانو سره ساتي- (معجم اوسط، 252/5، حدیث:7235)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خادريـې وور ته وغورځولو

حضرت سَیِّدُنا عَمرو بن شعیب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل زهٔ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خِدمت کښې حاضر شوم، زما پهٔ سر د کُسُم [د ګلاب پهٔ

شان] رنګ کښې رنګ کړے شوے يو څادر وو، چې دا يې وليدو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اِرشاد وفرمائيلو: دا دې څۀ اچولي دي؟ ما ته د دې پوښتنې نه د ناخوښئ اثار ښکاره شو- زۀ چې کله د کور والؤ خوا له لاړم نو هغوئي انغرے بل کړے وو نو ما هُغه څادر هغه وور ته وغورځولو- پۀ دويمه ورځ چې کله بارګاهِ رسالت ته حاضر شوم نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: هُغه څادر څه شو؟ ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هغه خو ما وور ته وغورځولو- اِرشاد يې وفرمائيلو: تا هُغه څادر زنانؤ ته ولې نۀ ورکولو؟ زنانؤ ته پۀ سر کولو کښې هيڅ باک نۀ وو-

(ابو داؤد، 4/73، حديث: 4066)

## کوريې وران کړو او هوار يې کړو

د حضرت سَيِّدُنا اَنس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې يو ځل رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل کور نه بهر تشريف راوړولو نو پۀ لاره کښې يې يو اوچت کور وليدو کوم چې د ګنبد پۀ شان جوړ شوے وو- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم نه پوښتنه اوکړه: دا څۀ دي؟ هغوئي عرض اوکړو: دا د فلانکي انصاري کور دے، پۀ دې اوريدو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاموشه شو، چرته بل وخت چې کله هُغه انصاري بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او سلام يې اوکړو نو د مدينے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جواب ورنکړو: هغه پوهه شو چې کيدے شي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم توجه نۀ وه ځکه يې بيا سلام اوکړو خو پۀ دويم ځل هم جواب ميلاؤ نۀ شو- بيا هغه ويريدو او هلته يې موجودو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ته ووئيل: پۀ خُدائے مې دې قَسم وي چې زۀ رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناراضه وينم- صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان هغوئي ته ووئيل

چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر تشریف وړے وو نو پۀ لاره کښې یې ستاسو کور ولیدو او پوښتنه یې اوکړه چې دا د چا دے؟ (یعنې زمونږ اندازه دا ده چې ستا نه د ناراضګۍ سبب ستا جوړ کړے شوے اوچت کور دے- پۀ دې اوریدو) هُغه (انصاري) خپل کور ته لاړو او هغه یې راوغورځولو- اِتفاقي توګه یو ځل بیا د مدینے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ هُغه ځائے تیریدو نو اوئې کتل چې هُغه د ګنبد پۀ شان کور هلته نشته- د هغې پۀ باره کښې یې پوښتنه اوکړه: نو صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! کله چې مونږ انصاري ته ووئیل چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو پۀ کور لیدو د نا خوښۍ اظهار کړے دے او پۀ دې وجه یې ستاسو د سلام جواب هم درنکړو نو هغوئي خپل کور داسې راوغورځولو چې د هغه نوم او نشان هم پاتې نۀ شو- رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: هره ودانۍ پۀ اِنسان باندې وبال ده د هغې نه علاوه کومه چې د سخت ضرورت او د مجبورۍ نه وي- (ابوداؤد، 460/4، حدیث:5237 ملخصاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو وکتل چې صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څومره محبت کولو چې کومه خبره به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه نۀ شوه نو صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم به هغه بالکل د جرړې نه ختموله لکه څنګه چې د سَیِّدُنا عَمرو بن شعیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څادر د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ نۀ شو نو هغوئي خپل هُغه څادر وور ته وغورځولو او ختم یې کړو- دغه شان کله چې د یو اَنصاري کور (د ګنبد پۀ شان د کیدو پۀ وجه) سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ نۀ کړو نو هغوئي خپل کور بالکل ختم کړو- شریعت د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوښې دے، سرکار

چې څهٔ وائي، څهٔ چې فرمائي، څهٔ چې خوښوي څهٔ چې نهٔ خوښوي، د شریعت حکمونه هم پهٔ هغې باندې جوړیږي-

## زمونږه خراب حالت

تاسو د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم د اطاعت جذبه او عشق او محبت ولیدو، اوس لږ خپلې جذبې ته هم وګورئ او غور اوکړئ چې یو طرف ته هغوئي هم مسلمانان وو او بل طرف ته مونږ هم مسلمانان یو خو زمونږ او د هغوئي پهٔ مینځ کښې څومره واضحه فرق دے؟ هغوئي داسې وَلوَله، جذبه، عزت، همت، جُرأت او طاقت موندلے وو چې چرته به تلل نو کامیابي به ورغاړه وتله او منزل به پهٔ خپله د هغوئي ښپو له راتللو او بل طرف ته زمونږ پهٔ شان مسلمانان دي چې چرته څو منزل رانه لرې تښتي- وګورئ چې د هغوئي سردار هم د مدینے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وو او زمونږه سردار هم د مدینے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے خو پهٔ هغوئي کښې اطاعت وو او مونږ نافرمانه یو، هغوئي د اطاعت پهٔ وجه عزت مند شول او مونږ د نافرمانه کیدو پهٔ وجه رسوا شو- ډاکټر اِقبال څهٔ ښکلي وئیلي دي:

وہ معزّز تھے زمانے میں مسلماں ہو کر
اور تم خوار ہوئے تارکِ قرآں ہو کر

**اے مسلمانانو!** یاد ساتئ چې تاسو د هُغه وخته پورې کامیابیدے نهٔ شئ د څو پورې چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښې له پهٔ خپله خوښه باندې ترجیح ورنکړئ- وګورئ چې د اللہ پاک د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نـمونځ خوښ دے خو د غافله مسلمان خوب خوښ دے، مُؤذِن پهٔ تیز اواز اِعلان کوي: ”اَلصَّلٰوۃُ خَیۡرٌ مِّنَ النَّوۡم“ یعني نـمونځ د خوب نه بهتر

دے خو اوسنو مسلمانانو خادرې اغوستې وي او اوده وي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ''جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِيْ فِي الصَّلٰوةِ'' يعنې زما د سترګو يخ والے نـمونځ جوړ کړے شوے دے- (نسائی، ص644، حديث:3946)

خو افسوس چې د اوسنو غافلو مسلمانانو د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو سترګو د يخ والي سره هيڅ کار نشته، آه! د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو يخ والے په نـمونځ کښې دے خو د غافلو مسلمانانو د سترګو يخ والے په فلمونو ډرامو کتو او په بد نظرئ کښې دے-

افسوس چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه په عملي توګه خپله خوښه نۀ ده جوړه کړې، وګورئ چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ږيره، زُلفې او د عمامې تاج خوښ دے، خو ستاسو خوښه؟ زۀ د خپله ځانه نۀ وايم بلکې د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: ږيرې اوږدې کړئ، بريتونه واړۀ کړئ او د آتش پرستو [د وور د عبادت کوونکو] مخالفت اوکړئ يعنې د هغوئي په شان مخونه مۀ جوړوئ-

(بخاری، 75/4، حديث:5892 ملخصاً)

نن که چرته خوک ويښتۀ پريږدي او په مخ باندې د سُنَّتو مطابق يو موټے ږيره پريږدي نو ځان ته مسلمانان ويونکي د بده مرغه هغوئي ته په سپک نظر ګوري او په '' مُلا'' وئيلو په هغه پورې خندا کوي، په داسې شکل اِختيارولو باندې مئيندې رټل کوي او پلار ترينه خفه کيږي، هئ نادانه پلاره! تا ته خو خوشحاليدل پکار دي چې تا د چا کلمه وئيلې ده ستا ځوي د هغۀ سُنَّت ادا کړې دي-

ياد ساتئ چې د ښو نقل بهر حال ښۀ وي- په دې باره کښې يو خو اِيمان تازه کوونکي واقعې ولولئ:

## ﴿1﴾ د ښو خلقو د نقل په وجه يې نجات نصيب شو

الله پاک چې کله فرعون او د هغۀ قوم په درياب کښې غرق کړو نو په هغوئي کښې يو هُغه کَس ژوندے پاتې شو کوم چې به په جامو او خبرو اترو کښې د حضرت سَيِّدُنا موسىٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام نقل کولو او فرعون او د هغۀ د قوم خلقو به د هغۀ د دې حرکتونو په وجه خندل- حضرت سَيِّدُنا موسىٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د هغۀ په بچ کيدو ډير حيران شو او د الله پاک په بارګاه کښې يې عرض اوکړو: دۀ خو به د نورو فرعونيانو په مقابله کښې ما ته ډير تکليف رارسولو! الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: اے موسىٰ! مونږ دا په دې وجه باندې غرق نۀ کړو چې دۀ ستا په شان جامې اغوستې وې او مونږ خو د خپلو محبوب بندګانو په شان شکل اِختيارونکو له هم عذاب نۀ ورکوو-

(مرقاۃ المفاتيح، 8/155، تحت الحديث:4347)

## ﴿2﴾ په سر او ږيره کښې د وړو اچولو نا اشنا وصِيّت

يو ټوقمار د وفات کيدو په وخت خپل دوست ته وصيت اوکړو چې کله ما ښخوې نو زما د ږيرې او سر په ويښتو کښې وړۀ ودوړوئ، دوست ووئيل: ياره! تۀ په ژوندانۀ خو ټوقې ټقالې کوې اوس په اخري وخت کښې خو د ټوقو نه منع شه! هغه ووئيل: که تۀ واقعي زما خير خواه يې نو څۀ چې درته زۀ وايم هغه اوکړه- دوست يې وخندل او راضي شو او د وفات نه پس يې د هغۀ د دفن کولو په وخت د هغۀ د ږيرې او د سر په وښتو کښې وړۀ ودوړول- يو څو ورځې پس هُغه دوست خپل وفات شوے ټوقمار دوست په خوب کښې وليدو پوښتنه يې ترې اوکړه: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعنې الله پاک ستا سره څۀ معامله وفرمائيله؟ وفات شوي کَس ووئيل: زما نه پوښتنه وشوه چې تا د وړو

د دوړولو وصيت ولي اوکړو؟ ما عرض اوکړو: اے الله! ما ستا د خوږ محبوب مُحَمَّد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد واوريدو چې: :"اِنَّ اللهَ يَسْتَحيِ عَنْ ذِی الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ" يعني بے شکه الله پاک د مسلمان د بوډا والي نه حيا فرمائي- بوډا توب خو زما پۀ اِختيار کښې نۀ وو ځکه ما سوچ اوکړو چې د بوډا والي پۀ شان شکل اِختيار کړم- الله پاک وفرمائيل: زه! ما تۀ اوبخښلې-
(معدن اخلاق، ص 54)

## سپين ويښته عزت او وقار دے

پۀ حديث شريف کښې دي: حضرت سَيِّدُنا اِبراهيم خَلِيلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د تولو نه وړومبے سپين ويښته وليدل نو عرض يې اوکړو: اے ربه! دا څۀ دي؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: دا عزت دے- عرض يې اوکړو: اے زما ربه! زما عزت زيات کړې- (مؤطا امام مالك، 415/2، حديث:1756 ملخصاً)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ياد ساتئ چې د څو پورې مونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښې له پۀ خپله خوښه باندې ترجيح ورنکړو نو د هغه وخته پورې به پۀ دُنيا کښې ناکامه يو او پۀ اخرت کښې د کاميابيدو اُميد هم ډيرکم دے- يقيناً چې د الله پاک رحمت ډير لوئي دے خو لږ سوچ اوکړئ چې زمونږه سرکشي کوم حد ته رسيدلې ده! مونږه خومره بے لارې شوي يو! که مخکښې به يو کس ګناه کوله نو ستومانه کيدو به پرې خو اوس حال دا دے چې پۀ ګناه کولو خوشحاليږي او که څوک يې پوهه کوي نو اُلټا ورپورې خندا کوي-

## زۀ د موسيقۍ د آلاتو ماتولو د پاره راليږلے شوے يم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن سبا د نورو ګناهونو پۀ شان موسيقي هم ډيره عامه

شوې ده حالانکې په حدیثِ پاک کښې د دې مذمت(غندنه) شوې ده لکه څنګه چې د مدینے منورې د سرکار، د مکے مکرمې د سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشادِ پاک دے: زۀ د موسیقۍ د آلاتو د ماتولو د پاره رالیږلے شوے یم-

(کنز العمال، جز:15، 99/8، حدیث:40682)

آه! یو طرف ته خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا اِرشاد مبارک دے خو بل طرف ته زمونږ د مسلمانانو کردار دے چې د هر یو کور نه د موسیقۍ اواز راځي، داسې کوم یو کور دے د کوم نه چې د سندرو سازونو اواز نۀ راځي؟ داسې کوم یو کور دے په کوم کښې چې فلمونه ډرامې نۀ کتلے کیږي؟

څومره چې مال زیاتیږي اِنسان د رَبّ نه هُغه همره غافله کیږي، شپه ورځ هغه د مال فِکر خوري بیا د ډاکوانو خطره ورسره بیله وي، د ټیکسیشن ډیپارټمنټ والا د هغه کور ته ځي راځي-

بعضې مالداه خواران د خپل مال په فِکر کښې دومره اخته وي چې د خپل ژوند نه هم لاس وینځي- په دې لړ کښې یوه عبرتناکه واقعه ولولئ:

## د مال په فِکر کښې د یو سوداګر مرګ

په پاکستان کښې یوه عجیبه واقعه وشوه چې یو مالداره ګس ته د ټیکس ډیپارټمنټ د طرف نه د یو کروړ روپو د ټیکس ورکولو سرکاري نوټس ولیږلے شو- هغۀ د افسرانو سره د رشوت خبرې اترې شروع کړې چې په ټیکس کښې ترینه نجات حاصل کړي- هغه ته ووئیلے شو چې که تۀ ټیکس په سرکاري توګه ورکول غواړې نو تۀبه پوره یو کروړ روپۍ ورکوې او که په ورستۍ دروازه یې ورکول غواړې (یعني د رشوت په لین دین کولو یې

ورکول غواړې) نو پۀ نیمه به دې کار وشي- هغه مالداره کَس وو کیدے شي چې پۀ 30 لاکهه روپو رشوت ورکولو رضا وو، غرض دا چې خبره جوړه نۀ شوه او افسران لاړل- وګورئ چې یو طرف ته د مسلمانانو دا حالت دے چې د رشوت لین دین کوي او بل طرف ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلرَّاشِيُ وَالْمُرْتَشِيُ كِلَاهُمَافِي النَّار یعنې رشوت اخستونکے او ورکونکے دواړه دوزخیان دي- (معجم اوسط، 1 / 550 ، حدیث:2026) خو افسوس چې د نن سبا مسلمانان د داسې قِسمه وعیدونو نه چرته ویریږي! بهر حال د هُغه مالداره کَس سره شپه ورځ هم دا فِکر وو چې د هغۀ نه د رشوت پۀ توګه 50 لاکهه روپۍ غوښتلے کیږي، اخر هم پۀ دې سوچونو کښې پۀ ظاهره هغۀ له خوب ورغلو- کله چې سحر شو نو کور والؤ د هغۀ د راپاڅولو ډیر کوشش اوکړو خو پته ولګیده چې د 50 لاکهه روپو پۀ فِکر کښې د هغۀ زړۀ فیل شوے دے او اوس هغه د همیشه د پاره اودۀ شوے دے-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** تاسو وکتل چې دولت د هُغه مالداره کَس څۀ پکار راغلو؟ یاد ساتئ چې دولت څوک هم د مرګ نۀ نشي بچ کولے، که دولت څوک بچ کولے شوے نو د قارون پۀ شان دولت نن د چا سره هم نشته- قارون دومره مالداره وو چې د هغۀ د خزانو کُنجیانې به یوې ډیرې لوئې ډلې اوچتولې، وئیلے کیږي چې هُغه ډله د 40 کَسانو وه- (تفسیر صاوی، پ20، القصص، تحت الآیة: 76، 1544/4 ملخصاً) لږ سوچ اوکړئ چې د چا د خزانې کُنجیانې یوه ډله اوچتوي نو د هغۀ خزانه به څومره وي خو هُغه خزانه د هغۀ هیڅ پۀ کار رانغله-

## د قارُون عبرتناک انجام

کله چې حضرت موسیٰ کلیمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک پۀ حکم باندې د قارون

نه زکوٰة وغوښتو نو هغه د زکوٰة ورکولو د پاره تیار نۀ شو، د حیلو بهانو نه یـې کار اخستل شروع کړل او اخر یـې د زکوٰة ورکولو نه اِنکار وکړو اوویې وئیل: واه! چې مال ما ګټلے دے نو تا له یـې ښنګه درکړم؟ بیا هغه یوې زنانه له مال او دولت ورکړو او د دې خبرې د پاره یـې رضا کړه چې کله موسیٰ (عَلَیۡهِ السَّلَام) خلق راجمع کړي او وعظ کوي نو هُغه وخت هغه پۀ هغوئي باندې د ځان سره د بد کارۍ کولو الزام ولګوي او داسې مَعَاذَ الله! د خلقو پۀ مخکښې هغوئي رسوا کړي- یوه ورځ چې کله حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام خلق راجمع کړل او وعظ او نصیحت یـې کولو نو عین هم هُغه وخت قارون حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام ته ردې بدې شروع کړې چې د فلانکۍ زنانه سره مَعَاذَ الله! تاسو بد کاري کړې ده- حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام پۀ دې خبره باندې ډیر خفه شو او اوئې فرمائیل: هُغه زنانه ما ته مخامخ کړه- کله چې هُغه زنانه د تصدیق د پاره راوغوښتلے شوه نو حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام د جَلال نه پۀ ډَک انداز کښې وفرمائیل: رښتیا رښتیا ووایه چې حقیقت څۀ دے؟ هُغه زنانه پۀ رپیدو شوه او هغې رښتیا ووئیل چې ما له قارون دومره مال او دولت راکړو او پۀ تاسو باندې یـې د بهتان لګولو د پاره تیاره کړم-

هُغه وخت د حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام پۀ سترګو کښې اوښکې راغلې او سجدې له لاړو او د سجدې پۀ حالت کښې حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام دُعا اوکړه: اے الله! پۀ قارون باندې خپل قهر او غَضَب نازل کړې- د دې سره حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام دا اِعلان هم اوکړو چې زما ملګري زما طرف ته او د قارون ملګري د قارون طرف ته لاړ شئ نو د دوو خوشامندو او چاپلوسو نه ټول علاوه خلق د حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام طرف ته راغلل- بیا حضرت موسیٰ

عَلَيْهِ السَّلَام زمکي ته حُڪم اوکړو چي اے زمکي! تهٔ قارون را اونيسه نو هغه يو دَم د زنګونانو پورې پهٔ زمکه کښې ورننوتو ، بيا هغوئي بيا زمکي ته هم دغه وفرمائيل نو هغه د ملا پورې پهٔ زمکه کښې ورننوتو- پهٔ دې ليدو قارون ډير ويريدو خو د هغهٔ دغه ژړا فرياد هيڅ پهٔ کار رانغلل او هغه هم دغه شان زمکي رانښکلو تر دې پورې چي بالکل پهٔ زمکه کښې ډوب شو- کله چي قارون وه ډوب شو نو د هغهٔ دوه ملګري کوم چي بد بخته شوي وو هغوئي پروپيګنډه شروع کړه چي حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام قارون څکه پهٔ زمکه ننباسلو چي د هغهٔ کور او خزانې قبضه کړي- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام بيا پهٔ جلال کښې راغلو او هغوئي د الله پاک نه دُعا وغوښتله چي د قارون کور او خزانه هم پهٔ زمکه راښکي نو د هغهٔ کور او خزانه هم پهٔ زمکه راښکلےشوي او اوس به د قيامته پورې قارون پهٔ زمکه کښې دننه روان وي او د هغهٔ سره به د هغهٔ خزانه هم د هغهٔ پهٔ سر بوج وي او هغه به پهٔ زمکه ننباسي - (تفسير صاوى، پ20، القصص، تحت الآية:81، 4/1546 1547 ملتقطاً)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** معلومه شوه چي سرمايه او مال سراسر وبال دے او هغه څوک هم نشي بچ کولے- ياد ساتئ چي د دُنيا او د اخرت کاميابي پهٔ مالداره کيدو کښې نهٔ ده بلکې د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ اِطاعت او تابعدارۍ کښې ده- مونږ د هغه وخته پورې کاميابيدے نهٔ شو د څو پورې چي د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښې له پهٔ خپله خوښه باندې ترجيح ورنکړو څکه مونږ له پهٔ هره معامله کښې د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښې له پهٔ خپله خوښه باندې ترجيح ورکول پکار دي مثلاً زمونږه زړهٔ غواړي

چې د سحر د نـمونځ پهٔ وخت اودهٔ يو او خپل خوب پوره کړو خو الله پاک او د هغهٔ خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته د نـمونځ کولو حکم کړے دے نو بيا مونږ ته د هغوئي خوښې له پهٔ خپله خوښه باندې پهٔ ترجيح ورکولو نـمونځ کول پکار دي- دغه شان که ږيره خريل مو زړهٔ غواړي نو پهٔ دې معامله کښې هم د زړهٔ مخالفت کول پکار دي او د سُنَّت مطابق يو موټے ږيره پريښودل پکار ده خو افسوس چې نن سبا بعضې بعضې خلق داسې کوي ګنې هر طرف ته د نفس او د شيطان د تابعدارۍ زور دے-
ياد ساتئ چې څوک د نفس مخالفت کوي هغه کاميابيږي، که هغه هر څوک وي پهٔ دې باره کښې يوه بله ايمان تازهٔ کوونکې واقعه وړاندې کوو:

## مريض پخپله طبيب جوړ شو

يو ځل سيدنا شيخ حضرت خواجه محبوبِ اِلٰهى نظامُ الدين اولياء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير زيات بيمار شو- مريدانو يـې عرض اوکړو: عالي جاه! دلته يو کافر دے دَم کوي او د هغهٔ عِلاج ډير کار کوي که چرې حُکم کوئ نو هلته به مو بوځو- اوئې فرمائيل: زهٔ د عِلاج د پاره د کافِر خوا له نهٔ شم تلے - مرض نور هم زيات شو او خواجه نظام الدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے هوشه شو- مريدانو را اوچت کړو او هم د هٔغه کافِر خوا له يـې بوتللو هغه دَم کړو نو خواجه نظام الدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ هوش کښې راغلو او روغ شو- نو هغوئي هٔغه کافِر ته وکتل او پوښتنه يې ترې اوکړه: تا ته پهٔ عِلاج کښې دا مهارت څنګه حاصل شوے؟ اوئې وئيل: زما ګُرو (يعنې اُستاذ) زما نه وعده اخستې وه چې نفس درته څه وائي د هغې اُلټا کوه لهذا چې زما کله يخو اوبو ته زړهٔ وشي نو ګرمې اوبهٔ څښم، چې وريژو ته مې زړهٔ وشي نو ډوډۍ خورم دغه شان د نفس پهٔ

مخالفت کولو سره پۀ ما کښې دا طاقت راغلے دے۔ خواجه نظام الدین رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ وفرمائیل: دا وواېه چې ستا نفس د مسلمانیدو اجازت درکوي یا نۀ؟ اوئې وئیل: منع کوي مې، اوئې فرمائیل: دا د مسلمانیدو نه منع کوي نو ستا د اُصولو مطابق تا ته د دې د اُلټا کولو سره مسلمانیدل پکار دي۔ دا خبره خواجه نظام الدین رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ پۀ دومره ښکلي انداز کښې ارشاد کړه چې د اثر غشے جوړشو او د هغۀ پۀ زړۀ ولګیده او هغه بے اختیاره ووئیل، زۀ د خپل کُفر نه توبه کووم او مسلمانیږم او بیا هغه کلمه ووئیله او مسلمان شو۔

(فیضانِ سنت، 736/1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو وکتل چې یو کافِر د نفس پۀ مخالفت کولو څومره ترقي اوکړه او اخر الله پاک هغه ته د یو ولي د فیض د نظر پۀ برکت د اِسلام دولت عطا کړو۔ افسوس چې مونږ د نفس غلامان یو او زمونږ نفس چې څۀ هم غواړي نو مونږ نۀ حرامو ته ګورو او نۀ حلالو ته، نۀ ثواب ته ګورو او نۀ ګناه ته، زمونږ سوچ هم دا وي چې بس زمونږ پیسې پکار دي، بیا که هغه د جوارۍ پۀ ذریعه حاصلیږي او که د ملاوټ پۀ ذریعه، د رشوت پۀ ذریعه او که د سود پۀ ذریعه۔ مونږ پۀ خپل ځان باندې ګمان کوو چې مونږ ډیر شریفان یو ځکه چې مونږ د چا کورونه نۀ ورانوو، د چا جیبونه نۀ وهو، د چا نه د وسلې پۀ زور پیسې نۀ اخلو۔ یاد ساتئ چې د وسلې پۀ زور لوټ مار کوونکي واقعي چې ډاکوان دي خو پۀ معاشره کښې داسې ډیر خلق موجود دي کوم چې پۀ ظاهره ډاکوان خو نۀ دي خو د ډاکوانو پۀ شان د هغوئي مقصد هم د خلقو لوټ کول وي لکه څنګه چې د رشوت پۀ لین دین کولو او ملاوټ کولو مال خرڅولے کیږي۔ د قیامت پۀ ورځ باندې به د الله پاک پۀ بارګاه کښې داسې ټول خلق راګیریږي لهذا لکه څنګه پۀ شوکو کولو د خلقو لوټ

کوونکي دوزخ ته بوتلونکي کارونه کوي دغه شان د رشوت په لین دین کولو او د ملاوټ مال خرڅوونکي هم دوزخ ته بوتلونکي کارونه کوي-
یاد ساتئ چې جُرم کوونکي په دُنیا کښې په رشوت ورکولو یا د چا د سفارش په وجه ازاد شي خو کله چې د مرګ ښکار شي او د قبر تیرې کندې ته کوز شي نو هلته به نهٔ رشوت په کار راځي او نهٔ د چا سفارش- که الله پاک او د هغهٔ خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناراضه شو نو داسې خلق به د قبر د عذاب نه څوک ازادوي؟ لهذا داسې خلقو له فوراً توبه کول او د ګناهونو نه د ډک کارونه پرېښودل پکار دي-
کیدے شي چې د چا په ذِهن کښې دا خبره راشي چې اوس خو لا عمر ډیر دے وروستو به توبه کړم نو د داسې خلقو د پاره عرض دے چې اګر که د مرګ وخت مقرر دے خو مونږ ته معلومه نهٔ ده چې کله به راځي؟ مونږ سحر او ماښام څهٔ وخت هم ناڅاپه د مرګ ښکار کیدے او د دې فاني دُنیا نه رخصتیدے شو! چا څهٔ ښه وئیلي دي:

عجب سَرا ہے یہ دنیا یہاں پر شام و سحر
کسی کی کُوچ کسی کا قیام ہوتا ہے

یعنې څوک د مرګ ښکار شي او د دې فاني دُنیا نه رخصت شي او څوک پیدا شي په دې دُنیا کښې قدم کیږدي، داسې په اربونو کهربونو خلق وفات شوي دي او اوس هم هره ورځ په لکونو خلق وفات کیږي او د قیامته پورې به دا لړۍ روانه وي-
**اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** غور اوکړئ چې د دې دُنیا حقیقت څهٔ دے او مونږ د دې په اثر کښې ولې راګیر یو؟ د خُدائے د پاره په خپل دې

مختصر شان ژوند باندې غور اوکړېٔ او پهٔ خپل نازک وجود باندې رحم اوکړېٔ چې دا نازک وجود نهٔ خو ګرمې زغملے شي او نهٔ يخنې- نن مسلمانان ډېر پهٔ شوق فلمونه او ډرامې ګوري، سندرې سازونه اوري، د مِلاوټ والا مال خرڅوي، دروغ وائي، کنځلې کوي، نـمونځونه قضا کوي، ږيرې خريوي او مور او پلار تنګوي، د دې سره سره د خپل اولاد د دِين او د سُنَّت مطابق تربيت نهٔ کوي بلکې مَعَاذَ الله! د بعضو بد نصيبو خو د سُنَّتو سره نهٔ لګي پته نهٔ لګي چې د داسې خلقو به څهٔ کيږي؟ وګورئ چې نهٔ مونږ باران زغملے شو او نهٔ سيلاب، چې پټاخه ډز شي نو ويريږو، که ناڅاپه پيشو مياؤ اوکړي نو ويريږو، که سپے وغاپي نو ويريږو، ياد ساتئ چې که مونږ قبر ته پهٔ داسې حال کښې ورسيدو چې زمونږ سره نهٔ نـمونځونه وي او نهٔ د رَمَضَانُ المُبَارَک روژې، پهٔ دُنيا کښې مو ږيره خريلې وي، د انګريزانو پهٔ شان جامې مو اغوستې وي، د سر د زلفو پريښودو پهٔ ځائے مو قِسما قِسم کټنګ کړے وي، پهٔ سر باندې د عمامې شريف پهٔ سر کولو پهٔ ځائے سر تور سره ګرځيدلي يو، صرف او صرف د ماډرن او د جديد دور د تقاضو مطابق مو ژوند تير کړے وي، که داسې وشو نو پهٔ قبر کښې به زمونږ څهٔ کيږي او مونږ به د قبر د عذاب نه څوک بچ کوي؟

افسوس! ډېر افسوس! که څوک اِسلامي ورور زمونږ د پوهه کولو کوشش کوي نو د هغهٔ پهٔ باره کښې زمونږ خيال څهٔ داسې وي: "دا څهٔ د پخوانۍ زمانې خبرې کوي، اِنسان سپوږمۍ ته وختو خو مُليان پته نهٔ لګي چې څهٔ خبرې کوي وغيره وغيره-" وګورئ چې مولانا صاحب د هغه بزرګې هستۍ خبرې کوي کوم چې پهٔ زمکه باندې پهٔ اوسيدو د ګوتې پهٔ اِشاره سپوږمۍ

دوه ټوټې کړې وه او هغوئي د معراج پهٔ شپه د سپوږمۍ نه وَراءُ الورىٰ (يعني ډير لرې) بلکې د عرشِ اعظم نه هم ډير لرې تشريف وړے وو-

کہتے ہیں سطح پہ چاند کی انسان گیا
عرشِ اَعظم سے وَرىٰ طیبہ کا سلطان گیا

د مولانا صاحب خبرې پخوانۍ خبرې ګڼلو والا که چرې پهٔ قرآنِ پاک باندې ځان پوهه کړي او اوئې لولي او د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حديثونه مبارک پهٔ غور سره ولولي نو هغوئي ته به معلومه شي چې د اِسلام او د شريعت تعليمات څومره ښهٔ دي-

## پهٔ دې فاني دُنيا کښې به هر يو کس مړ کيږي

(اميرِ اهلسُنَّت، مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اِرشاد فرمائي:) پهٔ دې فاني دُنيا کښې به هر يو کس مړ کيږي څوک به هم د هميشه د پاره نهٔ اوسيږي - يو وخت وو چې زمونږه نيا نيکونه به پهٔ دې دُنيا کښې وو خو اوس پهٔ هغوئي کښې څوک هم ژوندي نهٔ دي پاتې- آه! مور او پلار هم وفات شو او ورور او دوه درې خوئيندې هم وفات شوې، پهٔ دوئي کښې بعضې ما پخپله پهٔ وفات کيدو ليدلي دي بلکې بعضې مې پهٔ خپلو لاسونو قبر ته کوز کړي دي- چې ټول لاړل نو يقيناً چې يو نا يو ورځ به ما ته هم د دې دُنيا نه رخصتيدل وي- چا څهٔ ښهٔ وئيلي دي:

نسیمِ صبح گلشن میں گُلوں سے کھیلتی ہو گی
کسی کی آخری ہچکی کسی کی دل لگی ہو گی

نن به د چا د وادهٔ وړومبۍ شپه ختمه شوې وي، او د ځان سره به ډير

خوشحاله وي خو هم نن به څوک د مرګ په بستره باندې پروت وي او ځنکدن به يــې شروع وي، دغه شان څومره د وادۀ ځلمي داسې ليدلے شوي دي کومو چې د ګلونو هارونه په غاړه کړي وو او د نفلونو کولو د پاره په ورو ورو خوشحاله خوشحاله د جومات طرف ته روان وو، په هغوئي باندې ګلونه او نوټونه شيندلے کيدل، د ميلمنو د پاره ښۀ ډير ديګونه پخيدل او د خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائے کيدل- آه! بيا يو وخت داسې راغلو چې په هٔغه د وادۀ په ځلمو باندې بيا ګلونه واچولے شو خو اوس هغوئي د وادۀ په خوشحالۍ کښې د شکرانې د نفلونو د پاره جومات ته په ورو ورو په خوشحالۍ نۀ تلل بلکې د پنجرې په شان په ډولۍ کښې بند او د خلقو په اوګو باندې د پاڅه د هديرې طرف ته روان وو، مخکښې چې د ودونو په موقع باندې د کومو خپلوانو او دوستانو او ملګرو په شونډو باندې خوشحالي وه نن د هغوئي د سترګو نه اوښکې بهيږي- په دې باره کښې د يو ځلمي عبرتناکه واقعه ولولئ:

## د وادۀ په ورومبۍ شپه يــې ګردې فيل شوې

(اميرِ اهلسُنَّت، مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اِرشاد فرمائي:)

زمونږ د وروروليۍ د يو ځلمي ښه په خوشحالۍ او جوش سره په ماډرن انداز کښې وادۀ وشو، لا د هغۀ د وادۀ ورومبۍ شپه وه چې د هغه دواړه ګُردې فيل شوې- زۀ د تپوس د پاره اسپتال ته ورغلم چې هغه مې ليدو نو سوچ مې اوکړو چې که دا ژوندے پاتې شو نو کيدے شي چې نـمونځ ګزاره شي او د خپل اخرت د ښۀ کولو د پاره تيار شي خو بچ نۀ شو-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې هٔغه ځلمي کوم چې يو څو ورځې مخکښې هارونه پۀ غاړه کړي وو او د نفلونو کولو د پاره پيدل جومات ته راغلے وو، د هغۀ کُردې فيل شوې او بيا يو څو ورځې پس هغه پۀ اوګو پورته کړے شوے تيارۀ قبر ته کوز کړے شو-

اے پۀ ځوانئ باندې فخر کوونکو! اے پۀ ځوانئ کښې مستو د اللّٰه پاک هيروونکو! ياد ساتئ!

ڈھل جائے گی یہ جوانی جس پر تجھ کو ناز ہے
تو بجا لے چاہے جتنا چار دن کا ساز ہے

## د فرښتے اواز

حضرت سَيِّدُنا وَهب بن مُنَبِّہ رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: ما يوه ورځ پۀ کتاب کښې ولوستل چې پۀ اسمان کښې يوه فرښته دا اواز کوي: اے د 40 کالو والؤ! تاسو فصل يئ مونږ به ستاسو فصل رِيبو- اے د 50 کالو والؤ! ستاسو د پاره هٔغه دي کوم چې تاسو وړاندې ليږلي دي او څۀ مو وروستو پريښودي دي- اے د 60 کالو والؤ! ستاسو د پاره هيڅ عُذر نشته- کاش چې مخلوق نۀ وے پيدا کړے شوے او کله چې پيدا هم شو نو اے کاش چې پوهه شوے وے چې ولې پيدا کړے شوي يو- تاسو له قيامت راتلونکے دے بس تياري اوکړئ-

(حلية الاولياء، 4/36، حديث:4669)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د کومې دُنيا پۀ اثر کښې چې مونږ راګير يو او نازيږو پرې او د کومې دُنيا د حاصلولو د پاره چې مونږ د حرامو او د حلالو فرق نۀ دے ساتلے، ډيره زر به هغه زمونږ نه پاتې شي- زمونږ ترمينځه داسې څومره خلق موجود دي د کومو پۀ مخونو باندې چې د بوډا والي نخښې دي او

د هغوئي حالت دا دے چې پهٔ هغوئي کښې چا ړیرې خریلې دي نو چا د یو موټې نه کمې پریښودي دي، داسې خلقو له فوراً توبه کول پکار دي چې د بوډا والي نه پس به ځواني نهٔ راځي- البته که څوک ځوان پهٔ زړهٔ کښې دا ګڼي چې پهٔ بوډا توب کښې به توبه کړم نو دا بیله خبره ده خو د هغه ځلمي دا ګمان هم غلط دے او د شیطان د طرف نه دوکه ده ځکه چې بوډا توب هم د خوش قِسمتو نصیب کیږي ګڼې ډیر داسې ځلمي بوډا توب ته د رسیدو نه مخکښې د مرګ ښکار شي او تیارهٔ قبر ته کوز شي- د دې خبرې اندازه داسې هم لګیدے شي چې تاسو پهٔ خپله محله یا کلي کښې اوسیدونکو خلقو ته وګورئ که ستاسو د کلي ابادي د زرو [1000] خلقو ده نو پهٔ هغوئي کښې به کیدے شي چې لس یا پینځلس بوډاګان او بوډۍ ګاني پهٔ نظر راځي او باقي پاتې ابادي به د ځوانانو وي-

معلومه شوه چې پهٔ دې معاشره کښې یو یا دوه فیصده بوډاګان دي او باقي پاتې خلق د بوډا والي راتلو نه مخکښې هم پهٔ ځوانۍ کښې وفات کیږي- پته نهٔ لګي چې روزانه څومره ځوانان د دې دُنیا نه رخصتیږي، دغه شان د خپل ښار د ټولو نه غټ اسپتال ته لاړ شئ هلته کښې د داخلو مریضانو د خپلوانو نه معلومات اوکړئ چې د مریض څهٔ مرض دے او د هغهٔ عمر څومره دے؟ څوک به وائي چې زمونږ د مریض د دوو میاشتو نه پهٔ خیټه باندې درد دے او د دهٔ عمر 22 کاله دے، څوک به وائي چې زمونږ د مریض د اخري سټیج ټي بي ده او د دهٔ عمر 35 کاله دے یعنې د ډیرو مریضانو عمرونه به د 40 کالو نه کم وي- پهٔ اسپتال کښې به تاسو داخل کړے شوي

ماشومان هم وينیِ او د ځينو ماشومانو پهٔ باره کښې به درته پته ولګي چې د هغوئي خوارانو کينسر دے۔

## بالکل پهٔ کچه ځوانیِ کښې وفات شو

(اميرِ اهلسُنَّت، مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اِرشاد فرمائي:) زما يو پير بهائي وو د کوم عمر چې شل کاله او شپږ مياشتې وو، د هغه خوار د وينې کينسر شو او پهٔ کچه ځوانیِ کښې وفات شو۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو به وخت پهٔ وخت د خلقو پورته کيدونکې جنازې وينیِ بلکې ممکن ده چې ستاسو د کور نه هم د چا جنازه وتلې وي خو هُغه وخت به تاسو د شعور عمر ته نهٔ ویِ رسيدلي- تاسو ته به داسې ډير خلق ميلاؤ شي د چا پلاران صاحبان چې د دې دُنيا نه رخصت شوي وو او د وفات کيدو نه پس هغوئي پهٔ خپلو لاسونو د خپلو پلارانو صاحبانو سترګې پټې کړې وي، چا به د خپل [پلار د طرفه د] نيکه بابا جان د ښپو ګوتې تړلې وي، چا به د خپل ځوان ورور جنازې له اوګه ورکړې وي نو چا به د خپلې مور جنازه پورته کړې وي او چا به خپل وړوکے بچے دفن کړے وي، غرض دا چې کيدے شي چې داسې څوک به نهٔ وي د کوم د کور نه چې جنازه نهٔ وي وتلې۔

کله چې د چا د کور نه جنازه ووځي نو ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام د هُغه کور پهٔ دروازه ودريږي او خلق پهٔ ژړا پهٔ انګولا ويني او ورته فرمائي: ما ته ولې خبرې کویِ او ردې بدې راته وايئِ؟ زهٔ خو د الله پاک پهٔ حُکم باندې د رُوح قبض کولو د پاره راغلم- اے پهٔ مړي باندې ژړا کوونکو واورئ! پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! پهٔ تاسو کښې چې د څو پورې يو هم ژوندے وي

زۀ به دې کور ته بيا بيا راځم او هر يو به پۀ نمبر نمبر بوځم که خلقو د ملک المَوت عَلَيۡهِ السَّلَام دا خبرې اوريدلے او اِعلان يې اوريدلے نو مړے به يې پريښودے او پۀ خپل ځان باندې به يې ژړا شروع کوله-

(فتوحات مکيه، 8/465 ماخوذاً)

آه! د بده مرغۀ مونږ د جنازو نه عبرت نۀ حاصلوو! کله چې زمونږ د کور نه جنازه ووځي نو مونږ ښۀ ژاړو او پۀ پابندئ سره نمونځونه کول شروع کړو خو بيا د يو څو ورځو تيريدو نه پس مړے هير کړو او د نمونځونو نه لرې شو- مونږ مړي ولې هيروو؟ د دې وجه پۀ يو روايت کښې داسې بيان کړے شوې ده: کله چې د مړي د دفن کولو نه واپس خلق کور ته ځي نو يوه فرښته د قبر خاوره راخلي او پۀ تلونکو باندې يې دوړوي او وائي چې اے خلقو! ځئ د دُنيا پۀ کارونو کښې مشغوله شئ- (شرح الصدور، ص 103 ملخصاً)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** کله چې څوک وفات شي نو پۀ ورو ورو د هغۀ د وفات کيدو غم ختميږي د دې پورې چې يو وخت داسې راشي چې خلق وفات شوي خپل خپلوان، اولاد او مور او پلار هير کړي او د دُنيا پۀ رنګينو کښې ورک شي- کوم مسلمانان چې د دُنيا نه رخصت شوي دي مونږ له د هغوئي پۀ باره کښې سوچ کول پکار دي چې دا وخت به هغوئي پۀ څومره تکليف او بے وسئ کښې وي! غور اوکړئ چې يوه ورځ به مونږ هم خپل نازولي پۀ خپلو اوګو باندې اخلي او هديرې ته به مو وړي او نن مونږ ته مِسترِ ويونکي به سبا مونږ ته مړے وائي نو مونږ به څومره بے وسه يو؟ که هُغه وخت **مَعَاذَ الله!** زمونږ سره نمونځونه نۀ وي، د رَمَضَانُ المُبَارَک روژې نۀ وي، اعمال نامه مو ځائے پۀ ځائے د ګناهونو نه ډکه وي، الله پاک ناراضه

شي او د هغه خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خفه شي نو پۀ داسې حالت کښې به زمونږ سره قبر څنګه سلوک کوي؟ دا لږ پۀ غور سره ولولئ!

## پۀ نـمونځ کښې د ناراستۍ کوونکو سزا

پۀ يو روايت کښې دي:چي پۀ نـمونځ کښې ناراستي کوونکي به قبر داسې راګيروي چې د هغوئي پوښتۍ به ماتې شي او پۀ يوه بله کښې به ورننه شي- (قرة العيون مع روض الفائق، ص 383)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ياد ساتئ چې د قبر د عذاب نه مو نۀ کراټې بچ کولے شي او نۀ پهلواني، نۀ مو باکسنګ د قبر د راګيرولو نه بچ کولے شي او نۀ څۀ قِسمه وسله- آه! کله چي يې قبر راګير کړې نو پوښتۍ به ماتې يې شي او پۀ يوه بله کښې به وردننه شي- ياد ساتئ چې د ماتو هډوکو د ور وستو د پاره به نۀ پۀ قبر کښې د هډو سپيشلسټ راځي او نۀ بل څوک ميډيکل سرجن يا حکيم وغيره بلکې هلته خو به ماران او لړمان راځي او وور به هم تيزيږي او دا هر څۀ به د رَبِّ کريم د ناراضه کيدو پۀ حالت کښې وي- وګورئ چي مونږ د دُنيا د ګرمۍ نه د بچ کيدو د پاره خو پۀ کور کښې پکي او ايئر کنډيشنز لګولي دي خو پۀ قبر کښې د ګرمۍ نه د بچ کيدو د پاره مو د نـمونځ هيڅ انتظام نۀ دے کړے، ښه اخلاق، رښتيا وئيل، امانتداري، ديانتداري او نور نيک کارونه کوم چي پۀ قبر کښې زمونږ د پاره د راحت ذريعې کيدے شوې د هغې انتظام مو نۀ دے کړے- مونږ صرف خپل کورونه پۀ فرنيچرو ښائسته کړي دي چې سکون راته ميلاؤ شي، پۀ کور کښې مو روشن دان جوړ کړے دے چي رڼا حاصله کړو خو افسوس چې پۀ قبر کښې مو د جَنَّت د روشن دان هيڅ انتظام نۀ دے کړے-

## د قيامت په ورځ ارمان او پښيمانتيا

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د غفلت د خوب نه رابيدار شئ! ياد ساتئ چې که مونږ د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِطاعت او تابعداري نۀ کوو نو زمونږه انجام به څۀ وي؟ په دې لړ کښې د الله پاک رښتونے کلام په غور سره واورئ! د الله پاک اِرشاد دے:

﴿يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ۝﴾ (پ 22، الاحزاب: 66)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ الايمان: په کومه ورځ به چې د هغوئي مخونه په وور کښې بيا بيا اَړولے راړولے کيږي نو وائي به: هئ! اے کاش چې مونږه د الله حُکم منلے وے او د رسول حُکم مو منلے وے۔

("كنزُ الايمان" د اعلیٰ حضرت عاشقِ رسول، ولي کامِل مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د قرآن ترجمه ده۔ تاسو هم په خپلو کورونو کښې صرف ترجمهٔ قرآن كنز الايمان ساتئ۔)

اے بے نمانځو! تاسو هم واورئ، اے د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژو قضا کوونکو، اے د فرض کيدو باوجود زکوٰة نۀ ورکوونکو، اے د فرض کيدو باوجود حج نۀ کوونکو، اے د مور او پلار تنګوونکو، اے رېره خريونکو يا ديو موټې نه کموونکو، اے ويډيو ګيمز پخپله کوونکو او په نورو کوونکو، اے فلمونه ډرامو کتونکو او ښودونکو، اے د سندرو سازونو اوريدونکو او اوروونکو، اے په دوکه کولو ملاوټ کوونکو او مال خرڅونکو، اے د رشوت لين دين کوونکو، اے په سود کښې اخته کيدونکو ټول په غور سره واورئ! که الله پاک ناراضه شو، د هغه خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناراضه شو او اِيمان برباد شو نو بيا د دُنيا يو طاقت هم تاسو د اخرت د عذاب نه نۀ شي بچ

کولے څکه اوس موقع ده، د توبې دروازه کولا و ده، اوس توبه کیدے شي ګنې وروستو به ستاسو تعلیم، اعلیٰ سندونه، لوئي لوئي ډګریانې او ستاسو هنر تاسو د اخرت د عذاب نهٔ بچ نهٔ کړے شي۔

د دوزخ په عذاب کښې راګیر خلق خو به وږومبے پهٔ افسوس او پښیمانتیا سره وائي: اے کاش چې مونږ د اللہ پاک او د هغهٔ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُکم منلے وے، بیا به وائي:

وَقَالُوْا رَبَّنَاۤ اِنَّاۤ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَ كُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴿۶۷﴾ رَبَّنَاۤ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿۶۸﴾

(پ22، سورۃالاحزاب:67، 68)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الایمان: او وائي به: اے زمونږه ربه! مونږه د خپلو سردارانو او مشرانو د وینا تابعداري اوکړه نو هغوئي مونږه د لارې نه بے لارې کړلو۔ اے زمونږه ربه! هغوئي ته دوه چنده عذاب ورکړې او پهٔ هغوئي لوئي لعنت اوکړې۔

## پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې کامیاب څوک؟

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ دُنیا او پهٔ اخرت کښې کامیاب هغه دے څوک چې د اللہ پاک او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت کوونکے او تابعدار دے لکه څنګه چې اللہ پاک اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿۷۰﴾ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الایمان: اے ایمان والؤ! د اللہ نه ویریږئ او سمه خبره کوئ۔ اللہ به ستاسو

وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۱﴾

(پ22، سورۀالاحزاب: 70، 71)

اعمال ستاسو د پاره بنائسته کړي او ستاسو ګناهونه به اوبخښي، او څوک چي د الله او د هغۀ د رسول فرمانبرداري اوکړي هغۀ لويه کاميابي وموندله۔

غور اوکړئ! پۀ دې آيتونو مبارکو کښې دا نۀ دي فرمائيلے شوي چې څوک ميټرک، انټر، بي اے، بي کام اوکړي يا بيا انجنيئر، ډاکټر، وکيل يا وزير جوړ شي هغه کامياب دے بلکې اِرشاد فرمائيلے شوے دے: ”څوک چې د الله او د هغۀ د رسول تابعداري اوکړي هغۀ لويه کاميابي بياموندله۔“ نن مونږ د دُنيا پۀ امتحانونو کښې د کاميابيدو دُعا ځپله هم کوو او پۀ نورو باندې يـې هم کوو خو اصلي امتحان د قبر او د اخرت دے او پۀ دې کښې د کاميابيدو د پاره د الله پاک او د هغۀ د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعداري ضروري ده۔ خپل دا ذِهن جوړ کړئ چې مونږ ته د الله پاک او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښې له پۀ خپله خوښه باندې ترجيح ورکول دي مثلاً که نفس ووائي چې يخني ډيره ده، پۀ اودس کولو به دې يخني کيږي ورروستو نـمونځ اوکړه نو بيا مونږ له د نفس پۀ مخالفت کولو نـمونځ کول پکار دي ځکه چې الله پاک پۀ قرآنِ مجيد کښې ځائے پۀ ځائے د نـمونځ کولو حکم کړے دے لکه څنګه چې پۀ وړومبی سيپاره، د سورۀ بقره پۀ 43 آيت کښې اِرشاد دے: ﴿اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ﴾ ” [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الايمان: نـمونځ قائم ساتئ۔“ د دې سره سره زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا بيا د نـمونځ کولو ترغيب راکړے دے۔

یاد ساتئ چې څوک قصداً عمداً یو نـمونځ هم قضا کړي هغه به پهٔ زرګونو کاله پهٔ دوزخ کښې د اوسیدو حقدار جوړیږي، د دې سره سره د نـمونځ نهٔ کوونکي نه د الله پاک د ناراضه کیدو پهٔ شکل کښې به دوزخ ته ځي او کله چې د هغهٔ نه جنتیان پوښتنه اوکړي چې تاسو کوم څیز دوزخ ته بوتلي وئ؟ نو هغوئي به جواب ورکوي چې مونږ به نـمونځونه نهٔ کول لکه څنګه چې پهٔ قرآنِ پاک کښې دي:

فِیْ جَنّٰتٍ ۛ۫ یَتَسَآءَلُوْنَ ۙ﴿۴۰﴾ عَنِ الْمُجْرِمِیْنَ ۙ﴿۴۱﴾ مَا سَلَکَکُمْ فِیْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ قَالُوْا لَمْ نَکُ مِنَ الْمُصَلِّیْنَ ۙ﴿۴۳﴾

(پ 29، سورۂ المدثر: 40 تا 43)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الایمان: [پهٔ] باغونو کښې به وي- هغوئي به پوښتنه کوي- د مجرمانو نه- کوم څیز تاسو دوزخ ته بوتلئ؟- هغوئي به وائي: مونږه د نـمونځ ګزارو نه نهٔ وو-

وګورئ چې الله پاک او د هغهٔ خوږ رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته د نـمونځ کولو حکم کړے دے خو نفس مو د نـمونځ کولو نه منع کوي نو د چا به منو د الله پاک او د هغهٔ د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به منو که د نفس؟ دغه شان الله پاک او د هغهٔ خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته د ږیرې لوئیولو حکم کړے دے لکه څنګه چې پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: بریتونه ښهٔ کم کړئ او ږیرې معاف کړئ (یعني اوږدې کړئ) د یهودیانو پهٔ شان شکل مهٔ جوړوئ-

(شرح معانی الآثار، 28/4، حدیث: 6422 6424 ملتقطاً)

نفس وائي ږیره مهٔ پریږده افسر وائي ږیره مهٔ پریږده مور پلار وائي ږیره مهٔ پریږده نو د چا به منو؟ د الله پاک او د هغهٔ د رسول صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به منو که د

نفس؟ ياد ساتئ که چرې مور او پلار د ږيرې پريښودو نه منع کوي نو پۀ دې لړ کښې به د هغوئي خبره نۀ منلے کيږي ځکه چې کله الله پاک او د هغۀ خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ږيرې پريښودو حکم اوکړو نو بيا ږيره پريښودل واجب او خريل يې حرام شو- ياد ساتئ چې ږيره خريل يا د يو موټي نه کمول دواړه جائز نۀ دي- (فتاویٰ رضويه، 581/22 ملخصاً) نيت اوکړئ چې د نن نه پس به مونږ ږيره نۀ خريوو او نۀ به يې پۀ ورۀ کولو د يو موټي نه کموو-

## پۀ سترګو کښې د دوزخ وور

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا زمونږ پۀ معاشره کښې د سندرو سازونو او فلمونو ډرامو کتل عام شوي دي او د دې سپيرۀ والي زمونږ معاشره تباه او برباده کړې ده- منقول دي چې څوک خپلې سترګې پۀ حرامو ډکوي د هغۀ سترګې به د دوزخ پۀ وور ډکولے شي-

(مکاشفة القلوب، ص10)

غور اوکړئ! کله چې پۀ سترګه باندې معمولي شان درد راشي نو سترګه سرۀ شي او تکليف نۀ برداشت کيږي نو بيا پۀ اخرت کښې به د دوزخ وور څنګه برداشت کيږي! دې لړ کښې يو روايت ولولئ، حضرت حافِظ ابو القاسِم سُليمان طَبَراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (پۀ خوب کښې) يو منظر دا هم وليدلو چې د ځينې خلقو پۀ سترګو او غوږونو ميخونه ټک وهلے شوي دي- د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې چې عرض اوکړے شو نو اوئې فرمائيل: دا هٰغه خلق دي کومو چې به هٰغه څه ته

کتل کوم چې لیدل نهٔ وو پکار او هغه به یې اوریدل کوم چې اوریدل نهٔ وو پکار- (معجم کبیر، 156/8، حدیث:7666 ملخصاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! وعده اوکړئ چې مونږ د اللہ پاک او د هغهٔ د خوږ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا د پاره د فلمونو او ډرامو کتو او د سندرو او سازونو د اوریدو نه رښتوني توبه کوو او د نن نه پس به چرې هم فلمونه او ډرامې نهٔ ګورو او د سندرو او سازونو اوریدو نه به ځان ساتو-

اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم!

د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محله سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ
+92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net